# د خیبر پښتونخوا پولیس او سي ټي ډي د داعش(ISKP) په ضد لویه بریا

پولیسو او سي ټي ډي پیښور او د هغې په مضافاتو کې د استخباراتي معلوماتو په اساس د داعش (ISKP) شبکه په نښه کړه او یو ترهګر یې ووژل او ۱۴ نور یې ونیول۔

**په داعش پورې تړلي ترهګر د اقلیتونو (سیکهانو او عیسویانو) او مذهبي مشرانو په هدفي وژنو کې لاس درلود او د محرم په میاشت کې یې د ترهګریزو فعالیتونو پلان جوړاوه۔**

**په دې وروستیو کې په پیښور کې د مصنوعي استخباراتو پر بنسټ د قوماندې او کنټرول سیستم رامینځته شوی چې د داعش ترهګرو په پیژندلو او نیولو کې مهم رول لوبولی دی۔**

**د خیبر پښتونخوا پولیس او سي ټي ډي د نورو امنیتي ادارو سره د ترهګرۍ په له منځه وړلو کې مهم رول لوبوي، په داسې حال کې چې داعش یا کومې ترهګرې ډلې ته به د ودې موقع نه ورکول کیږي۔**